زه به په حوض باندې - ولاړ - يم تر څو وګورم چې ستاسو څخه څوک پر ما راځي، نو يو څه خلک به ماته له راتګ څخه منع شي، زه به ووايم: اې ربه دوی زما او زما له امت څخه دي

له اسماء بنت أبی بکر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «زه به په حوض باندې - ولاړ - يم تر څو وګورم چې ستاسو څخه څوک پر ما راځي، نو يو څه خلک به ماته له راتګ څخه منع شي، زه به ووايم: اې ربه دوی زما او زما له امت څخه دي، نو وبه ويل شي: آيا ته پوهيږې چې ستا څخه وروسته يې څه کړي دي، قسم په الله چې ډير ځنډ يې ونکړ تر دې چې شاتګ يې وکړ- يعنې بېرته ستا له دين څخه اوړېدلي دي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې هغه به يې د قيامت په ورځ پر حوض باندې وي تر څو وګوري چې له امتيانو يې څوک حوض ته ورځي، او زر دی چې هغه صلی الله عليه وسلم ته نږدې به يو څه خلک منع شي، نو وبه وايي: اې ربه! زما او زما له امت څخه دي، نو ورته به وويل شي: آيا ته پوهېدلای يې چې ستا څخه له بيلتون وروسته يې څه کړي دي، قسم په الله چې ډير ژر يې په شا تګ کړی او له خپل دين څخه يې مرتد شوي دي، نو نه خو دوی له تا څخه دي، او نه ستا له امت څخه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65031